UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړې استازی تدامیچي یاماموتو لنډ ګزارش**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

**نیویارک، ۲۶ جون ۲۰۱۸**

***

ښاغلي رئیس،

افغانستان له سیاسي پلوه یوه خوځنده پړاو تجربه کوي. لس ورځې مخکې موږ په افغانستان کې د پیښو یوه عالي لړۍ ولیدله چې د سولې لپاره امکانات او باثباته جوړښتي خنډونه یې ښکاره کړل. ولسمشر غني د جون د میاشتې په ۷ نېټه د اختر د لمانځلو لپاره د جون له ۱۲ نېټې څخه تر ۱۹ نېټې پورې یو اړخیز اوربند اعلان کړ چې د روژې میاشتې ختمیدو رسیدو سره سمون لري. له دې څخه دوه ورځې وروسته طالبانو هم خپل یو اړخیز اوربند اعلان کړ چې د جون له ۱۵ څخه تر ۱۷ پورې دوام درلود. د دغو درې متداخله ورځو په اوږدو کې دواړو خواوي د تیرو ۱۷ کلونو شخړې موده کې، د لومړي ځل لپاره خپل د اړوند اوربند درناوي وکړل. زیات شمېر افغانان د دغو پېښو په اړوند په خوښۍ سره غبرګون وښودل. سیمه ایز حکومتي چارواکو طالبانو څخه وغوښتل چې خپلې وسلې کېږدي او د خپلو کورنیو د لیدو په موخه ښارونو ته داخل شي. په ورته حال کې یو شمېر افغان سرتیرو د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو څخه لیدنه وکړه. ټولنیزې رسنۍ د طالب جنګیالیو د عکسونو څخه ډک وو چې افغان امنیتي ځواکونو سره یې روغبړ په حال کې نیول شوي وو. له دې وروسته ولسمشر غني بیا د اوربند د غځولو وړاندیز وکړ – چې دا وړاندیز د یوناما او د نړیوالې ټولنې د زیات شمېر غړو لخوا تایید شو. خو، له بده مرغه، طالبانو جګړې ته بیا ژمن شول.

زه په ژوره توګه خواشینی یم چې طالبانو د جګړې د بندولو او تاوتریخوالي کمولو له فرصت څخه ګټه وانخیستل. د جګړې په اړوند د دوي پریکړه به یوازې د ملکي وګړو ستونزی او کړاونو زیات کړي.

د دې باوجود دا ارزښت لري چې و ارزول شي چې سږکال په افغانستان کې یوازې د سولې د غوښتنې په اړه څومره بدلون راغلی دی. د ملي یووالي حکومت لخوا د فبروري د میاشتې په ۲۸ نېټه د کابل پروسې کنفرانس په جریان کې د مخکینیو شرطونو پرته د سولې د خبرو اترو وړاندیز یو نوی حقیقت رامنځته کړی دی. که څه هم طالبانو په رسمي ډول دغه وړاندیز ته کوم ځواب ندی وړاندی کړی، خو یو شمیر نور پرمختګونه یې پیاوړي کړی دی. لومړی، موږ په بې ساري ډول یو ولسي خوځښت ولید. د مارچ د میاشتې په پیل سره، عادي افغانانو د هیواد د ۳۴ ولایتونو څخه شاوخوا ۲۰ ولایتونو کې خیمې ودرولې، چیرې چې دوی د سولې په ملاتړ اعتراض وکړ. د جون په لومړیو کې، کابو ۲۰۰۰ دیني عالمانو یوه ډله په کابل کې سره ولیدل. همدارنګه دوی ځانمرګي بریدونه د اسلامي تعلیماتو پر خلاف وګڼل او د اوربند او د سولې د خبرو د پیل لپاره غوښتنه وکړل. د روژې د میاشتې

په پیل کې، د سولې د خیمې د درولو لومړي ډله له هلمند ولایت څخه د کابل ولایت ته ۵۰۰ کیلومتره لاریون پیل کړ، چې د لارې په اوږدو کې چېرته چې دوی درېدل د اوربند او خبرو اترو لپاره غوښتل چې لا زیات ملاتړ ترلاسه کړي، تېره اوونۍ کابل ته ورسیدل. د جګړې د پای ته رسولو لپاره د دوی غوښتنې د جګړې هر یو طرف متوجه وو. د سولې لپاره د افغان وګړو ریښتینې غوښتنه ده چې د دوی د زړونو له تل څخه سرچېنه نېسي، چې باید له پامه ونه غورځول شي.

موږ باید له ځانه څخه دوه پوښتنې وکړو: د سولې په اړوند موږ له دې پیښو څخه څه زده کړي دي؛ او موږ څه ډول غبرګون وښیو؟

هغه څه چې موږ زده کړي دا دي چې افغان حکومت او طالبان دواړه په خپلو ځواکونو قومانده او کنټرول په خپل لاس کې لري. افغانان، د طالب جنګیالیو په ګډون، په څرګنده توګه سوله غواړي. دا هم روښانه خبره ده چې ولسمشر غني د خبرو اترو له لارې د سولې د ترلاسه کولو په موخه زړور ګامونه پورته کوي.

موږ په څه ډول غبرګون ښیو؟ د جګړې ډګر ته د طالبانو بېرته ستنیدل په دا مانا ده چې دوی ټینګار کوي چې د دوی هدف په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون پای ته رسول دي. له همدې امله، دوی د افغان حکومت سره په نېغه خبرې اترې ردوي. په هر حال کې، په افغانستان کې هر راتلونکی سیاسي ترون باید د ټول افغان وګړو اندیښنې په پام کې ونیسي. افغان وګړي باید د شخړې د پای ته رسولو او د راتلونکي په اړه د پریکړې کولو لپاره په خپل منځ کې خبرې وکړي. دا په څرګنده توګه د طالبانو څخه غواړي چې دوي باید د افغان حکومت سره په نېغه خبرې اترې ترسره کړي. موږ باور لرو چې د نړیوالو ځواکونو د شتون مسله به په هراړخیز ډول سره خاماخا د سولې خبرو اترو په حالت کې ونیول شي، کوم چې د ټولو افغان وګړو لپاره راتلونکی سیاسي جوړښت به تعیین کړي.

دلته زه باید یادونه وکړم چې د ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره سیمه ایزې هڅې ډېر زیات پام یې ځان ته اړوي چې له امله یې د تاجکستان او د ملګرو ملتونو د ترهګرۍ سره د مبارزې دفتر لخوا تنظیم شوي ځینې مهم نړیوالو کنفرانسونه ترسره شوي دي.

ښاغلی رئیس،

اوس مهال د اکتوبر په میاشت کې د پارلماني ټاکنو او د راتلونکي کال د پسرلي په موسم کې پلان شوي د ولسمشریزو ټاکنو لپاره تیاري په جدي توګه روان دی. د اپریل د میاشتې له نیمايي څخه راهیسې، له اوه ملیونو څخه زیاتو خلکو د رایې ورکولو لپاره نوم لیکنې کړې دي . دا د ۲۰۰۳ کال راپدېخوا لومړی ځل دی چې افغانستان د پارلماني او ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایه ورکوونکو بشپړ نوم لیکنه ترسره کوي. هدف یې د رایې ورکولو د واحد ملی مرکز دی چې د هغه پر بنسټ دقیق د رایو ورکولو مرکزونه او محلونه رامنځته شي. کله چې دغه هدف ترلاسه شي، تمه کیږي چې د درغلۍ کچه د پام وړ په ډول راټیټ شي.

د اوه ملیونو څخه زیاتو رایه ورکوونکو نوم لیکنه، په سختو شرایطو، په ځانګړې توګه په ناامنۍ کې، یوه د پام وړ او مثبته لاسته راوړنه ده. په هر حال، د نږدې ځارنې په صورت کې، د اندیښنو لپاره دلیلونه لا هم پاتې دي. لومړی، په شپږو ولایتونو کې د

اټکل شوي وړ رایه ورکوونکو نوم لیکنه د 35 سلنې څخه کم ثبت شوی دی. دوهم، د ولایتونو دننه نوم لیکنه نا مساوي انډول چې د لوژستیکي او یا امنیتي دلایلو له امله ځینې سیمو کې د نوم لیکنې څخه ډډه شوي دي. د افغانستان د څو قومي جوړښت په پام کې نیولو سره، د دې ټولنو له پامه غورځول کولای شي د ټاکنو پایلو د زیات سیالۍ لامل شي. نامساوات هم د نوماندانو نوم لیکنه اغیزمنه کړې ده.

دا ځل، په افغانستان کې ټاکنو پروسه په بشپړ ډول سره د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت ترسره کیږي. ټول افغانان د شفافو او ټول شموله ټاکنو لپاره ګډ مسؤلیت لري.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، هغه نهاد دی چې د ټاکنو لومړنی مسؤلیت په غاړه لري. هر کمیشنر باید د افغانستان د راتلونکي لپاره د خپل عظیم مسؤلیتونو څخه په بشپړه توګه اګاه وي چې دوي یې د افغانستان د راتلونکې لپاره خپل پر اوږو لري؛ ترڅو د ډیموکراټیک سیاسي پروسې بنسټ پیاوړی کړي او همدارنګه وښيي چې افغانستان ژمن او چمتو دی چې د ننګونو سره مخ شي تر څو یو خپلواک دولت کوم چې وکولاي شي په خپلو پښو ودریږي رامنځته کړي.

سیاسي ګوندونه او سیاسي مشران باید په بشپړ ډول سره پوه شي چې د باوري ټاکنو لپاره د مسؤلیت لویه برخه دوی هم په غاړه لري. د دې پر ځای چې دوی یوازې پر پروسه باندې نیوکه وکړي، باید په فعاله توګه داسې تعامل وکړي تر څو ټاکنې په ریښتیني ډول سره د افغانانو په مالکیت وي.

موږ د مدني ټولنې د ژمنې هرکلی کوو چې د رایې ورکولو په هر مرکز کې د رایې ورکولو، شمېرنې، جدول کې لیکل او د پایلو لیږد څارنه وکړي. نړیواله ټولنه باید د دوی په څارنه کې د دوی ملاتړ وکړي.

اوس مهال ملګري ملتونه ۲۳ نړیوال متخصصین لري چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د شکایتونو کمیسیون او همدارنګه د دوی اړوند سکرتریتونو سره کار کوي، او اضافي تخنیکي سلاکاران د ګمارلو په حال کې دي. موږ به د نړیوالې ټولنې سره په همکارۍ کې هر ممکنه هڅه وکړو ترڅو د شفافو، ټول شموله او باوري افغان مالکیت ټاکنو د وړاندې کولو لپاره د افغان وګړو د هڅو سره مرسته وکړو.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان په اړه د جنیوا د وزیرانو کنفرانس، چې د ملګرو ملتونو لخوا کوربه توب شوی دی او د افغانستان حکومت سره په ګډه مشري کیږي، د نومبر د میاشتې په ۲۸نېټه کې ترسره کیږي. دا کنفرانس د بدلون د لسیزې په نیمايي کې ترسره کیږي چې په ترڅ کې یې دغه هیواد د نړیوالې ټولنې باندې د اتکا پر ځای د ځان بسیاینې خوا ته حرکت کوي. کنفرانس به په دریو برخو تمرکز وکړي. لومړی، هغه انډول او میزان چې هیواد د ځان بسیاینې او د مرستو اغیزمنتوب خوا ته حرکت کوي. دوهم، پاتې ننګونې، د بیلګې په توګه ناامني او د کار موندلو فرصتونه رامنځته کول. په روښانه توګه، یو ډېر خوندي هیواد کوم چې د هغه خصوصي سکتور یې ګړندی وده کولای شي د کارموندنې په رامنځته کولو کې کلیدي ده. دریم، د لنډمهاله بشري اقدام او

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

پراختیايي همکارۍ ترمنځ اړیکه. د سولې او امنیت، بشري مرستې او پراختیا ترمنځ اړیکه د ملګرو ملتونو لپاره یوه مهمه موضوع ده، او د جنیوا د وزیرانو غونډه د دې اتصال لپاره د تمرکز کولو فرصت وړاندې کوي. موږ تمه لرو چې افغان اړخ په جنیوا کې به د پراختیا، بې وزلۍ کمولو او اصلاحاتو په برخو کې د خپلو لاسته راوړنو په اړه او همدارنګه د پاتې ننګونو د حل لپاره بنسټیز پلانونو طرحو په اړه راپور ورکړي. په غبرګون کې زه د افغانستان د پراختیايي شریکانو څخه په کلکه تمه لرم چې د افغانستان د خلکو او ادارو سره په کلکه ملاتړ وکړي ځکه چې دوی هیواد مخ په وړاندې خوځوي. موږ له دې امله هڅه ول شویو چې وینو چې د افغانستان حکومت، د بیلګې په توګه د سیمه ایز اتصال او سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره د کار کولو سره، لا دمخه د بدلون لسیزې هاخوا ګوري. ډیر څه ترلاسه شوي خو د سولې، امنیت او پراختیا په برخو کې لا زیات څه باید ترسره شي. جینیوا موږ ټولو ته د سږ کال غوره فرصت راکوي چې د خوندي او غوره راتلونکي لپاره لاره جوړه کړو.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان ډیره برخه، په ځانګړي توګه شمال او لویدیځې سیمې، وچکالۍ ځپلي دي چې د هغه کچه د نږدې یوې تېرې لسیزې تجربه شوي وراني په پرتله خورا زیات دي. په ۲۰۱۷ کال کې د غنمو تولید د پنځو کلونو اوسط څخه ۵۷ سلنه ټیټ راپور شوی و او په ۲۰۱۸ کال کې حاصلات نور هم ټیټ اټکل شوي دي. د بشري غبرګون پلان د ۱۱۷ ملیون ډالرو غوښتنې سره تعدیل شوی دی، چې تر دې دمه پورې د ۵۴۷ ملیون ډالرو پورې و، ترڅو ملګرو ملتونو ته دا وړتیا ورکړي چې اغیزمنو خلکو ته مرستې چمتو کړي او د حکومت لخوا د اړینو خلکو د خدمت د ترسره کولو لپاره کار بشپړ کړي.

ښاغلی رئیس،

په داسې حال کې چې زموږ پام په لویو سیاسي پروسو باندې متمرکز شوی دی، دا مهمه ده چې موږ د ښځو د حقونو د ساتنې د مهمې مسلې څخه سترګې لېرې نه کړو. یوناما په دې وروستیو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمي قضیو د حل لپاره د منځګړیتوب کارولو په اړه یو راپور خپور کړی دی. زه د موندنو څخه ډیر اندیښمن شوم. راپور وموندله چې د دې قضیو ډیرې برخه د جنايي قوانینو سره سم د تعقیب پرځای د منځګړیتوب له لارې حل و فصل شوي دي. په ډیری قضیو کې دا ډول دودیز لارې، اصلي تاوتریخوالی زیات کړی دی. ښځې پریښودل شوې دې چې کړاو سره ژوند وکړي. هغه ښځې چې د جنايي تاوتریخوالي سره مخ شوې دي باید وکولای شي د قانون سره سم خپل حقونه تایید او ترلاسه کړي.

ښاغلی رئیس،

د سولې او ټاکنو مهم سیاسي پروسې له ډاډ څخه لرې دي؛ مګر موږ د سولې په لټه کې د پرمختګ او د راتلونکي او همدارنګه د سیاسي بنسټ د ټینګولو لپاره بې ساري فرصتونه وینو. د افغانستان مخ پر ودې پرمختګ هغه ستراتیژیو ته اړتیا لري چې د دوی د حل لپاره دي د جینوا کنفرانس لپاره د چمتووالي د یوې برخې په توګه بیا کتنه وربانديي کیږي. په بل عبارت، راتلونکې میاشتې د نړیوالې ټولنې لپاره مهم فرصتونه به وړاندې کړي چې په جدي توګه بیاکتنه وکړي او هغه لاره تنظیم کړي چې دا د سولې، ډیموکراسۍ او ځان بسیاینې راوستلو لپاره د افغانستان د هڅو ملاتړ او مرسته کوي.

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

ښاغلي رئيس ستاسو څخه مننه.

***

*یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټیکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي موریت په څیر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د شخړو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د موثرې حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کومې چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي. یوناما د شخړې د رامنځ ته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوال ملاتړ همغږی کوي.*